د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

په بلخ کې د المان په مرسته د یوه نوي انجینري کالج ودانول – د المان د اقتصادی همکاریو او پراختیا وزارت پارلمانی مرستیال د بلخ ولایت د معاون سره یوځای د هغه ولایت دپاره دانجنیری د یوه نوي کالج د بنسټ ډبره کیښوده

مزارشریف، د ۱۳۹۳ کال د سلواغه میاشت ۲۲ نیټه – نن د المان د اقتصادی همکاریو او پراختیا وزارت پارلمانی مرستیال ښاغلي توماس زیلبرهورن د بلخ ولایت دپاره د هغه ولایت د مرستیال ښاغلي محمد ظاهر وحدت سره یوځای د انجنیری د یوه نوي کالج د بنسټ ډبره کیښوده. دغه نوئ کالج د المان د حکومت له خوا د KfW د پراختیایي بانک له لارې تمویلیږي.

ښاغلي محمد ظاهر وحدت د بنسټ ایښودلو په مراسمو کې وویل: "په ښوونه او روزنه کې پانګه اچونه، د هیواد په راتلونکي کې پانګه اچونه ده. "ښاغلي توماس زیلبرهورن د خپلې وینا په ترڅ کې ټینګار وکړ چې دغه پروژه به د افغانستان د راتلونکي دپاره، په تیره بیا د ځوانانو دپاره، نوی لرلید ونه منځته راوړي. ده وویل: "د کار د بازار او د خلکو د اړتیاوو سره سمه پوهنه او مسلکي روزنه د هیواد په پایښتي پراختیا کې د ځوانانو د ونډې اخیستنې او د هغوی کورنیو ته د عواید د منځته راوړنې بنسټ ګڼل کیږي" .

انجینری کالج چې اوس د ودانولو په حال کې دی د ۳،۴ یورو (۲۲۰ میلیونو افغانیو) په تخمینی لګښت به په ودانیزه ساحه کې ټوله پانګه اچونه چې ۱۱ میلیونو یورو (۷۰۸ میلیونو افغانیو) ته رسیږي بشپړه کړي. دغه کالج چې د ۷۲۰ تنو زده کوونکو ظرفیت لري د معماری، سرک جوړولو، د ریل د کرښې جوړولو، نلدوانی او د برښنا د تخنیک څانګې پکې شاملې دي.

په دې ساحه کې د انجنیری د کالج ترڅنګ، د تخنیکي ښوونکو د روزنې اکادمي (TTTA) او د کرهنې سیمه ایز انستیتوت (ARI) هم موقعیت لري چې په دې وروستیو کې د هغوی ودانیز کار پای ته رسیدلی دی او د روان کال د دوبي په موسم کې به خپلې دروازې د زده کوونکو پرمخ خلاصې کړي. دغه اکادمي د یوې عصري او مجهزې تعلیمی او عملي روزنې مانۍ په توګه به د ۵۰۰ تنو مسلکي ښوونکو دپاره د تخنیکي/میخانیکی څانګو په زده کړه کې خدمت وکړي. د کرهنې انستیتوت د کرهنې په څانګه کې د ۷۲۰ تنو زده کوونکو ظرفیت لري. دغې واړه تحصیلي موسسې د تدریس د لوبو او روښانه تالارونو او همدارازد پخلنځیو او تفریحی امکاناتو لرونکي دي.

نوموړې ودانۍ چې د تخته پل په سیمه کې جوړې شویدي د افغانستان دپاره د تخنیکی او مسلکي پوهنې او روزنې د پروګرام (TVET) یوه برخه ګڼل کیږی چې د المان د حکومت له خوا تمویلیږي.

د پروژې د بیخبنا برخه چې د KfW د پراختیایي بانک له خوا پلی کیږي په کابل او د هیواد په شپږو شمالي ولایتونو کې د روزنې د پاره د عصري او فعاله ودانیو ودانول پکې شامل دي چې نه یوازې عصري تجهیزات برابروی بلکه همدارنګه د هغو د ساتنې او مراقبت دپاره روزنه هم ورکوي. د پروژې نهادي او د ظرفیت جوړونې برخه چې د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH د اداري له خوا پلی کیږي، د درسي نصابونو د تدوین او د وروستي آزموینې د یوه رسمي سیستم په جوړولو او همدارازد ښوونکو دپاره د یو لړ روزنیزو پراوګرامونو په ډګرکې مرسته کوي. همدارازد تخنیکي ښوونکو د روزنې د اکادمیو سره د تشکیلاتي جوړښت او اداره کولو په ډګر کې مرسته کیږي او د مزارشریف د اکادمۍ د مشر سره به انفرادي ملاتړوشي او هغه به سلامشوره ورکړل شی، او پراختیایي کارکوونکي به د اکادمۍ د زده کوونکو لپاره د عملي روزنې په برخه کې د مسلکي ښوونکو د ملاتړ په موخه په ساحه کې حاضر وي.

د ودانیز کار د پای نه وروسته، نوموړې تحصیلي ساحه به د افغانستان د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي پوهنې او روزنې معینیت ته وسپارل شي چې د هغه معینیت له خوا به د المان د پراختیاي همکارۍ په مرسته وړځنې ساتنه او مراقبت وشي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de